


Ketabton.com

**د زړونو تر منځ کربښه ............................... نصیب خان سنګریار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: : **د زړونو تر منځ کرښه**

خپروونکی :: :: :: :: :: **هیواد ادبي یون کلاسیف الله**

چاپ کال :: :: :: :: :: :: :: :::::: :: :: اپریل **۲۰۱۵**م

کمپوزوونکی :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: عبدالقادر مجرم

د پښتی انځور :: :: :: :: :: :: :::: :: :: :: :::: :: :: :: ::اسد ګدون

چاپ شمېر :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: (۱۰۰۰) ټوکه

بیه :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: (۲۰۰)روپۍ

Facebook (search) Sangaryaarjogezai@yahoo.com

**د زړونو تر منځ کرښه** ............................ **نصیب خان سنګر یار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شاعر پېژندنه

---

د شاعر نوم :: :: :: :: :: :: :: :: نصیب خان جوګیزئی

قلمي نوم :: :: :: : :: : :: :: نصیب خان سنګریار

د پلار نوم :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: ښادي خان جوګیزئي

په ختـه :: :: :: :: ::::: :: جـوګیزئي کاکړ

د اوسېدلو ځای :: :: :: شرن جوګیزئي کلاسیف الله

د زوکړې نېټه :: :: :: :: :: :: :: : ۲م مارچ ۱۹۹۱

تعلیم :: :: :: :: :: ::::: ایم ایس سي (جیالوجي

ایم اې پښتو (ادبیات)

اړیکه :-03003876479 ✆ 03337916628

Facebook (search) Sangaryaarjogezai@yahoo.com

Email Njogezai1@yahoo.com

**د زړونو تر منځ کرښه ........................ نصیب خان سنګریار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زړونو تر منځ کربنه

په ژوند کې د هر کار د پاره یو قانون او تګ لاره موجوده وي.دا ټول قوانین د ژوند د پرتګ د پاره جوړ شوي دي.هغه ځکه چې نظم او ضبط په ژوند کې ډېر ارزښت لري کوم کار چې نظم او ضبط و نه لري،هغه کار پر مخ تګ نه کوي او نه په ټولنه کې خپل ځای موندلی شي ، مطلب دا چې که موږ وګور مذهب هم هغه کړنې منع کړي دي کوم چې ټولنې ته نقصان رسوي ،د نړۍ پوهانو چې څومره قوانین جوړ کړي دي ، د انسانانو او د ټولنې د ښېګڼې د پاره جوړ کړي دي،نو ښکاره خبره ده چې د هغه قانون پابندي کول څه ګران وي ، حکومتي نظام چلولو د پاره مختلف هېوادونو کې مختلف نظانمونه وي، هر هیواد ځان ته خپل نظام او قانون لري او هغه قانون تر هر چا بالاتره وي ، مطلب دا چې که په کوم هیواد کې نظام ښه وي د هغه هیواد وګړي پر امنه باسواده د ښو ښادیو خاوندان وي،او که د کوم هېواد نظام کمزوری وي،د هر چا د پاره برابر نه وي ، هلته نو داسي بدي پېښې کېږي چې سړی ورته ګوته په غاښ پاته شي ، دغه رنګه هر قام خپل ځان ته څه نا څه خپل قوانین هم لري چې په هغو کې ځینو ته موږ د رواج نوم هم ور کولی شو ، که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وخت مورږ ډېرو رواجونو ته بد وايو خو کوم وخت چې ځيني رواجونه وو، د هغوي شاته خامخا داسي څه وو ، چې هغه پر خلکو تپل شوي وو، او په هغه کې به د هغه وخت د شاهانو هم لاس وو ، چې د دوي په ګټه به وو ، خو چې کله خلك با سواده شول او تعليم يې وکړ،ورسره ورسره ساينس هم د ترقۍ په مېدان کې نوي نوي تجربې وکړې او لا يې کوي،دغه ټولو عواملو پر ټولنه اثر واچاوو ، او ډېر داسي رواجونه چې پر ټولنه يې منفي اثر پروت وو له منځه لاړل،مطلب دا چې خلك د نړۍ سره په تللو مجبوره شول،او د زمانې د ارتقا په لاره روان شول او له ډېرو پرسوده رواجونو نه يې ډډه وکړه ، د پښتو ژبې قدرمن شاعر رحمان بابا وايي ..

زمانه که قدم ستا پر قدم نه ږدي

تـه قـدم د زمـانـې پر قـدم کښېږده

اوس که مورږ وغواړو چې خپل رواجونه ژوندي وساتو خو زمانه له موږه سره په دې دودونو باندي قدم نه ږدي ، نو مورږ مجبوره يو چې د زمانې پر قدم ، قدم کښېږدو،خو بيا به هم په دغه حالاتو کې خپله ملي پېژندنه له لاسه نه ورکوو،لکه د نړۍ نورو قامونو چې د ژوند په هر ډګر کې ترقي کړې ده له دې سره سره يې خپل ثقافت،تهذيب و تمدن هم ژوندی ساتلی دی ، نو د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library


کلتور،ژبې او ملي پېژندنې د غني کېدو د پاره پکار دی چې موږ خپل ادب قوي کړو،او خپلو ادبي هلو ځلو ته دوام ورکړو،د ادب د پاره کار وکړو ، مخکې مې هم ویلي وو چې د هر کار د پاره خپل قانون او ضوابط دي،نو ځکه پوهانو د علم ساینس ، سیاست او ادب د پاره خپلې خپلې شعبې جداجدا کړي دي،که یو څوك ساینسدان وي هغه به د ساینس په اصولونو روان وي،هم به په هغه شعبه کې زدکړه کوي،سیاست ځان ته شعبه ده،دغه رنګه ادب هم خپل ځان ته خپله علمي لاره قانون او ضوابط لري،په ادب کې بیا دوې مهمې برخې نظم او نثر کارول کېږي پر مخ تللي قامونو خپل ادب هم غني کړی وي ، د ادب په هر شعبه کې یې ځان ته لاره ټاکلې وي ، دغه رنګه که د هر څه د پاره قانون ، نظم و ضبط شته دغه رنګه په ادب کې دننه د نظم او نثر د پاره خپلې قاعدې او قوانین دي هم دغه قوانین که څوك ښه کاروي او پابندي یې کوي،نوې نوې تجربې په کې کوي ښه ادیب ورته ویل کېږي،خاص لکه ساینس پوهه چې یو تجزیه یا تجربه کوي ،هم دغه رنګه ادیب هم د خپل فن د قانون په چوکاټ کې نوې نوې تجربې کوي،نظم ځان ته او نثر ځان ته چوکاټ لري،دلته به خبري یواځې تر شاعر او شاعرۍ پوري را غونډې کړو،کوم شاعر که شعر د شاعرۍ په چوکاټ کې دننه ولیکي او نوې تجربې وکړي هغه به خامخا کامیابه کېږي ، دا هم ضروري

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چې هر شاعر دي نوم ومومي،دا نو بیا د شاعر په شاعرۍ ،ګفتار او کردار پوري اړه لري،کوم شاعر که په خپله شاعري کې خپل چاپېرچل،خپل ټولنیځ حالات،خپلې ستونځې او د هغوي د حل لاره بیان کړي او د علم او دلیل په تول هم پوره وي ،هغه شاعر به تل ژوندی وي،دغه رنګه یو ځوان شاعر نصیب سنګریار د شعر په مېدان کې خپل نیلی ځغلوي او غواړي چې د شعر نیلی یې سیال شي خو هغه بیا په اولس او کتاب لوستونکو پورې اړه لري چې هغه د ده د شعر نیلی څومره سیالولی شي او د سنګریار د شاعري تول څومره درنېږي ، دا فېصله اولس او حالات کوي .

سنګریار خپله شعري ټولګه ( د زړونو تر منځ کرښه ) په دې نیت چاپ کړه چې د خپل وس مطابق اولس ته ګټه ورسوي،دا ټولګه په ښکلو شعرونو پسولل شوې ده،د هر انسان په زړه کې مینه درد احساس او خواهش وي خو هغوي دا درد مینه او خواهش نه شي ښکاره کولی،خو ادیبان دا خپل درد خواهش او مینه هم ښکاره کولی هم په ښایسته ټکو کې بیانولی شي ، د سنګریار په دې ټولګه کې هم غم د دوران او هم غم د جانان بیان کړل شوی دی،او په دې ټولګه کې یې په بېلا بېلو موضوګانو شعرونه را غونډ کړي دي چې هم یې خپل چاپېرچل ته او هم د ټولنې ستونځو ته هم یې له هیواد سره د میني او هم یې د پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نفاق هم يې د اولس او قام دښمن او هم يې د خپلي ميني اظهار په کې کړ ی دی،زه د بېلګې په توګه د سنګريار يو څو بېته ستاسي مخ ته وړاندي کوم،يو څو متفرق بېتونه .

✍

يــــوازي دغه نـــه ده دقــامـــونوتر منځ کرښه

را کښلې ظالیمانـــوده دزړونـــوتر منځ کرښه

✍

چـــي پـــه نـــړي کـــې ترده بـــل مخور نۀ شي پيدا

دپښتانه ماشوم دي خداي داسي روزنه وکړي

✍

ي اڅن غـــــواړي‌هـــمناري د امــــنواړه وهي

بيا ولي جنګ د پښتنوپوکور دېره شو خدايه

✍

**د زړونو تر منځ کرښه** ............................ **نصيب خان سنګريار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې نظام کې مې د قام د سیالۍ برخه نښته

ځکه خو موږ نعره هر وخت د انقلاب کړې ده

✍

ساقیانو واک د وخت ملا ته په لاس مه ورکوئ

په خدای درباسي د دې پاته میخانو جنازه

✍

چې خپل دښمن تر اوسه پېژني که نه ملګرو

زه به دا سوال په پټه پټه له افغانه وکړم

✍

دا نوی نسل به له توري هم توپکه ژغورم

ورته کوم به په هر ځای کې د کتاب خبره

✍

چې دغه پردی جنګ مو تر خپل کور پوري رانشي

بیا باسو به ترې کډه په کوم وره ما او جانان

**د زړونو تر منځ کرښه** ........................... **نصیب خان سنګریار**

(c) ketabton.com: The Digital Library


✍

سنګريار خواست درته کومه کتابونه واخلئ

ببرته راستون شئ لـه سنګره درنه ځم پر بله

✍

اوس چي بې ځايه دي بې کوره دي په چغودي تول

دا ده خانانـــو ، ملايانـــو د فتـنوکـلـی دی

چي په کوم کلي کې د هر ګوند بېرغـونه رپـي

دغه يې نخښه ده چې دا د پښتنو کلی دی

---

د جهل په تيارو کې يې خپل قام دی را ګېر کړی

دی خان راته په برخه دی،دی خان مي همسايه دی

✍

زما خلاف يې کښلې توره د ننګ مخکي تربور

ځکه پر شا ځمه له جنګه د جنګ مخکې تربور

خدای پاك دي وکړي چې نصيب سنګريار په دې خپلو

هلو ځلو کې بريالی شي او د خپل قلم او کلام په سوب خپل رېغ

**د زړونو تر منځ کرښه** ........................... **نصيب خان سنګر يار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اولسه پوري ورسوي ، او د دوی دغه هڅه رنګ راوړي ، له سنګريار څخه د لا ښه فن او شاعرۍ په هيله ....

**پدرلي**

**لمبرليکول**

**هودادي بن کلاسيفلله**

**د زړونو تر منځ کرښه** ............................ **نصيب خان سنګر يار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې خبرې

ګرانو او قدرمنو !

ما چې به کله هم د یو ملګري کتاپ چاپ ولید خدای شته ډېر به خوشاله شوم ، چې ښه شو بیا د یو ملګري کتاب چاپ شو، خو په زړه کې به مې ویل چې هغه ورځ به کله راشي چې زما کتاب به چاپ شي ، خو شکر دی نن مې هغه آرمان پوره شوو ، د دې کتاب په چاپولو کې د یو ملګري لویه ونډه ده ، که چیري هغه زما لار ښودنه مه وای کړې ، زما دغه آرمان به نیمګړی و، دا د هغه د مینې او همت برکت دی چې زه یې دې ته و هڅولم چې خپله ټولګه سره را غونډه کړم او چاپ ته یې وسپارم .

ځای په تر دي ده مړانې
دګران والي دي بیا ګرانې
په حقیقت کې کوم څوک چې زه یادوم او دکوم چا
د مینې پوره وړی یم ، د هغه همت او حوصله تر
یوانښکي غره هم غټه ده ، نو په حقیقت کې د داسې
حوصلې د سړی ساری نشته ، بابا ي همت عبدالقادر

د زړونو تر منځ کرښه ............................ نصیب خان سنګر یار

(c) ketabton.com: The Digital Library


مجرم یادوم د چا په سوب چې زه د یو کتاب څښتن شوم، نن چې کومه ټولګه ستاسي په لاس کې ده هم د مجرم صاحب برکت دی چې د ناروغۍ په حالت کې زما دغه ټولګه ( د زړونو تر منځ کرښه) یې د پښو په ګوتو را کمپوز کړه .

په دې شعري ټولګه کې ما تر خپله وسه پوري دا کوشش کړی دی چې د شعر په ژبه خپل اولس ته ګټه ورسوم خو دا فیصله به بیا تاسي کوئ چې زما شاعرۍ ته څومره ځای ور کولی شئ . د دې ټولګې په چاپولو کې چې چا ماته غوره مشورې راکړي دي په هغو کې په ځانګړې توګه د عبدالقادرمجرم صاحب او امیرمحمد لیکوال صاحب چې له ما سره یې ډیري ستړې وړي دي ، له ما سره داسي ټکي نشته چې د دوی شکریه په ادا کړم او د لیکوال صاحب ډېره مننه کوم چې زما په دې نه څه شعري ټولګه سریزه ولیکله او په خپل خوږ نظر یې و نازولم ..

نور نو زه د دې خپلې خاوري شعري ټولګې (د زړونو تر منځ کرښه) او ستاسو د نازک خیال تر منځ کرښه نه جوړیږم ، ستاسو نظر او زما دا خاوري شاعري سره پرېږدم ....

د زړونو تر منځ کرښه ........................ نصیب خان سنګر یار

(c) ketabton.com: The Digital Library


# مننه

د پښتون ملي يوالي په ارمان
نصيب خان سنګريار
سهېلي پښتونخوا کلاسيف الله
نېټه ۲۸ م مارچ ۲۰۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د قدرمن عبدالقادرمجرم صاحب ،ګران ملګري امیر محمد لیکوال صاحب ، نوابزاده ریاض خان جوګیزئي، نوابزاده اسفندیار جوګیزئي، نوابزاده سکندر جوګیزئي ،واجد ترِي، ، ،عنایت اولسمل، هېواد شپون ، عمرګل عسکر، ډاکټر محب ،الله صاحب ،زین الله رودوال د زړه له تله مننه او کور ودانی کوم ، چې زه یې کتاب چاپولو ته و هڅولم او هم یې د کتاب د چاپ په چارو کې ز یار او مرسته راسره وکړه او دا رنګه د ، نوابزاده ګوهر خان جوګیزئي ،کمال خان کاکړ، اعجازخان ،جمال ناصر جمال، روزي خان شوق،ارشد خلیل ،ښاغلي اسدګدون ، رزاق پښتون ، نقیب افغان، ملک عزیز الله خان،صابر روښان ، عصمت کاکړ کوئټه ، محمد رسول دلپزیر، حبیب الله کاکړ ، جمعه خان مینوال ، نورالله وطن دوست، رحمت دلشاد ، اختر کاکړ،سلیم ناشاد ،صفا مروت ، فضل الرحمن لائق ،نعیم آذاد، صادق ژړک ،زیارکش مندوخېل،اورنګ زیب ،ذاکر یوسفزئي ، ډاکټر شفیق، عزیز عزیز،یاسر کاکړزیارت ،اسحاق کارګر، ، عزیزالله کاکړ ، هاشم خان جوګیزئي عد یم ث اني

د زړونو تر منځ کرښه ........................ نصیب خان سنګر یار

(c) ketabton.com: The Digital Library



،نضام الدین قرباني او د هغه ټولو ځوانانو ملګرو منندوي یم ،چې ما ته یې د دې کتاب په هکله غوره مشورې راکړي دي.

# په درناوي

**نصیب خان سنګریار**

**سهېلي پښتونخوا کلاسیف الله**

**د زړونو تر منځ کرښه ......................... نصیب خان سنګر یار**

(c) ketabton.com: The Digital Library


# حمورحط

مور جانې ستا سایه دې وي زما پــر سر همېشه
ستا په دعا یمه بــاچا د هر لښکـــــر همېشه

په کمه ورځ چې مسافریمه زه کـــــورته درځم
په ماهغه ورځ وي که ووایم اخـــــــتر همېشه

چې دژوندون واړه کارونه مي پـــرمخ روان دي
په نیمه لارکي مي دښمن شي درپه در همېشه

په نیمه لارکي ماته وخـوري شاته اخلي قدم
مـا ازمـولـی دی پـــرهـــرځـای زورور همېشه

زه **سنګریار** یې یم لـه هري بـلا بچ سـاتلی
مـا تـــه عـاجـزه وي د کـلي مـخـور هـمـېشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

وو ګــــران ســــره ووډ پرسره خوارېه ماا و جانان
حالاتــــو کــــړلوډ پــرســــره ترخه ما او جانان

بې رحمه خـــــو شالۍ را باندي نه ورحمېدلې
ناتــــــرسه غمو دوا ړه کـــــړو زا ړۀ ما و جانان

ريباره راشه کښېنه يــــــوار دومره راته وايه
پــه ديـد به سره کـله شو ماړه ما او جانان

چـې دغـه پـردی جنـګ مو تر خپل کور پوري رانشي
بيا باسو به تـرې کډه پـه کوم وره مااو جانان

د ژوند پــه لار دي غوا ړمه ملګــری **سنګرياره**
پــه دې خبر سـودا کړه زړه پـه زړه مااو جانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږغ ده کوتلو دي موسم کې څه نرمي خوره شوه
پر ګران وطن مې بیا هوا ده پسرلي خوره شوه

غاټولو بیا غوټۍ سپړلي دي د سپېل وخت دی
ده خیساره لمن کې بیانوې سیالۍ خوره شوه

زاڼي په ډلو ډلو ځي زرکې هم سپېل کوي
ده غرو درې ښکاري سمسوري رنګیني خوره شوه

شین سو ورخل بس انتظار دغټېدو پاته دی
بیا په فضا کې د ګلونو خوشبویي خوره شوه

زاغان کوچېږي بلبلان راغلو سندري وايي
کمبلۍ راغلې په بوستان کې شین ګښتي خوره شوه

ستا **سنګریار** د خیال سندري وايي ناست دی ورته
کډوال روان دي خراسان له تبدیلي خوره شوه

**د زړونو تر منځ کرښه** .............................. **نصیب خان سنګریار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یمه مومن پـر شیریڼـو مئین یم
پښتـو پـالمـه پر پښـتـو مئین یم

ځم به پـه لار د صمد خان او خوشال
پـه ښـه غیرت د ننګیالـو مئین یم

ده خپـل پښتون بابا شمله هسکوم
پر خـړو خـړو پښتنو مئین یم

غواړم پښتون لـره یـوه پښتونخـوا
ده مشـرانو پـر جـرګـو مئین یم

پښتو ، پښتون ده **سنگریار** ذکـر دی
ده پښـتـانه وطن پـر غـرو مـئین یم

**د زړونو تر منځ کرښه** ........................ **نصیب خان سنگر یار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

ريباره يـاره چپ شـه د زړه سـر مـه يـادوه
اوبل را تـه د کلي مـازيګـر مـه يـادوه

خـوږې خوږې لمحې د انتـظار چې تـېرېدلې
هغه دمـزو شپې هغه ګـودر مـه يـادوه

سـر زوري يـار وفا را سـره نه کوي چې ولي؟
نـادان زړګيـه دا راتـه اکثر مـه يـادوه

زه يې د بېلـتون کلي کـې وارولـم لاړی
چې ګـرزي لاپـروا هغـه دلبـر مـه يـادوه

هغه چې تل لـه يارِه سره يار وي او يار اوسي
ومـا تـه کلـه داسـي بـختـور مـه يـادوه

خـبري د قلـم او د کتاب کـړه **سنګـريـاره**
نفرت مي دی لـه جنګ څخه سنګر مـه يـادوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټول جفا جفا دی له جانان سره شپې ګراني دي
نه کېږي زړګيه له درمان سره شپې ګراني دي

ټینګي حوصلې ساته هیڅ حال کې همت مه هاره
اوس د پخوا وخت نه دی دوران سره شپې ګراني دي

یوارمان مي ګوره بل ارمان ته په ژړادی
ارمان واي ارمان ته له ارمان سره شپې ګراني دي

تل د رقیبانو په لمسون له ما نه لري ځي
ځکه اوس له دغه بې ایمان سره شپې ګراني دي

دا بې پښتو خلک د پښتو په قدر پوه نه دي
ځکه په دې کلي کي جهان سره شپې ګراني دي

تاته چي څوک خان دي **سنګریاره** یاد وي دي نه
نور خان هیرول پکار دي خان سره شپې ګراني دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چي راځې او لا راځې لا به راځې جانانه
زماله ډېرو اوښکو سترګې شوې ړندې جانانه

اوس خو بې تا په هیڅ محفل کې خوشالي نه وینم
بې تا ترخې دي د ژوندون ټولي لحظې جانانه

خدای خبر هغه د خوند شپې به کله راشي بېرته
هغه چي زه به ومه ناست ته به راتلې جانانه

زه ستا غمونو کړم زهیر د مرګ سلګۍ وهمه
پرتا مې وړي بېخي ډېري اندېښنې جانانه

بس **سنګریاره** زیاته ګرانه شوه وخدای ته کښېنه
بدلوم زیاته هغه کړي ارادې جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

دا چي ولاړ دي پـــه درشـل دی تـاتــه څه پته ده
پـه دې کـې هــم د رقیب چل دی تـاتـه څـه پته ده

پـه دغـه وخت کې څنګـه وخاندم ، خندا نه راځي
زړه مــي کنډر لکــه کلبـل دي تـاته څـه پتـه ده

ماچي خوښ کړی دی اوخوښ مې دی په دامې خوښ دی
دا د ګلــــونــو د ســر ګل دی تــاته څه پتـــه ده

ګناه مـې داده چـې پښــتون یمه په دې مـې وژني
په ګران وطن کي مـــه اُوربل دي تاته څه پته ده

زړه مغزي ماتی،لېونۍ نه دی چـې څوک یادوي
ه غـه د ډيرو ، زړنـو غـل دی تا تـه ، څـه پتــه ده

د **سنګـریار** د زړګي ناوې څنګـه وکـړي سنګار؟
وران یـې ده زړه د کـور محـل دی تا تـه څه پته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخـوامي وپـــه زړه کـي اوس پرهاردی مخامخ
پـرې کړی مي شين سترګي جانان واردی مـخامخ

د شنـې طوطکۍ کـډه لـــه دې باغه څخه کـــړې
خالـي دغـــه دبـــــرکلي چـــــناردی مخامخ

ريبــــاره مـلامت يم مـلامته کـــړه راجــــوړه
لـــه ډېـري مـــودې پس راغلـی ياردی مخامخ

اورونــــه دنفرت پاشـي دهـرســـړي په زړه کـي
راغلـی دغـــه ښـــارلـــره ښـــاماردی مخامخ

هغـه دزړونــوغل دی همېشه غـلاکـــوي زړونه
زمالـــه هغــــه ښکلــي ســـره کاردی مخامخ

زړګی د **سنګريـار** پــه ارمـان دړي وړي مات شو
دی کـــړی ورتــه ګـران جانان انـکاردی مـخامخ

---

د درويش دراني صاحب پر مځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library


✹

راشی چې کښېنو او جرګه شو نوم نښان جوړ کړو
پښتنو راشي چې شو يو ، پښتونستان جوړ کړو

نور له جنګونو نه بېزار شو ټوپک و غورځوؤ
دغه وېجاړې کنډوالې افغانستان جوړ کړو

راشي په خپله و خپلوانو ته هم لار وښيو
خپلوان له بدو ځخه وژغورو خپلوان جوړ کړو

دغه بدۍ ،بدۍ به وشړو له خپل وطنه
دغه نفرت ،نفرت نه لري به خپل ځان جوړ کړو

خپلو بچيانو ته قلم او کتاب زده کړه ورکړو
د مستقبل له پاره ښه تکړه ځوانان جوړ کړو

و هر شاعر ته د ادب سنګر په نخښه کړو مونږ
د **سنګريار** غوندې غښتلي شاعران جوړ کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

د مـړو او ښکو قطار مي پر ګرېوان راځي راځي
زړګي لــه مي يــادونـــه د جانان راځي راځي

باداره بل ځای هم دي څوک ماتم ته پيدا شوي
يــوا ځي کـه جنګـونـــه پر افغان راځي راځي

پـــرون يې کړې د ځينو غـيبانو کيږدۍ رنګي
ويل يې چي پـردې لاره خانـــان راځي راځي

د عشق فلـسفه ډکـه وي لـه غمه نور څه نشته
همېش په کي دويراو غم داستان راځي راځي

هغې وۀ زمـا پـرسـر جنګ له امځولو سره کړی
ويل يې **سنګـــريار** دی پر ماګران راځي راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



❋

د خوږ زړګي قرار دی او درمان مي دی یوڅوک
ولاچي د خپل ځانـه راته ګران مي دی یوڅوک

وزړه ته مې په زړه کي دی پـه مینه ځای ورکړی
زړګی مي پرې ودان د زړه **خان** مي دی یوڅوک

وسـترګوتې په سـترګوکي د زړه حالونه وایم
لــه رازه مي خــبر دی قدردان مي دی یوڅوک

پـــه مینه یـې زمـا مینـه ژوندون کــــوي منم
جانان مي وؤجانان بـــه وي جانان مـي دی یـوڅوک

د خیال په ائینه کي مي هروخت ګرځي راګرځي
یـوعکس **سنګـــریاره** قهرمان مي دی یوڅوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د سوي زړه ارمان دی جانان
زما ژوندون دی زما ځان دی جانان

په هیڅ قیمت یې هېرولی نه شم
و ما ته ګران لکه ایمان دی جانان

زما ده زړه درشل آباد دی باندي
زما طبیب زما درمان دی جانان

هره ادا یې د ښائیست ده کتاب
مضمون مضمون بیان بیان دی جانان

رقیبه دومره خو خبر یې که نه
د **سنګریار** ده زړګي توان دی جانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



✼

ده زړه قرار وئیل درځم زړه نا قرار ستړی شو
په انتظار انتظار ستا مې انتظار ستړی شو

د راتلو قول اشنا کړی وو په وخت ده سپېلي
د سترګو تور مي په دا هیله په دا لار ستړ ی شو

ده ماشوم والي کورکی د ماشوالي دوران
له دې ځوانۍ اوزلمیتوبه مي زړه خوار ستړي شو

اوس رقیب هم پوه شو پښېمانه راغلو دایې ویل
ده پښتانه په سیالي وګوره اغیار ستړي شو

خانه خراب بیلتون په هره لارکې خنډ شوراته
یتیم ارمان مي ستا ده وصل په تلوار ستړي شو

په هر یو ترک مي زړه ولاړشي وایي راغلی جانان
تس ګومانونه دي ګومان مي په اظهار ستړي شو

بس دی وراشه اشنا نوریې زیاته مه ځوروه
په مغزي ماتې بیلتانه دی **سنګریار** ستړي شو

**د زړونو تر منځ کرښه** ........................... **نصیب خان سنګر یار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

تــرخــو حالاتــو کــړم بدل کلــي تــه کــم راتلمه
وو يـېـ پـه هر ســړي کې چل کلي ته کم راتلمه

ځکــه مي نــورو سره نا ستــه زړګي نه غوښتله
جانان مـي شو د رقيب مـل کلـي ته کــم راتلمه

نـن د واړه ريبـا ر پـه دې خبـره نـه پـوهېـــــدم
ور يې خبــري تــه کـړ ، ول کلـــي ته کم راتلمه

که مرم نو مړ دي شم دا ستا پـه سرقبوله مي ده
کــه را پـېښېـــږي مي اجل کلــــي ته کم راتلمه

د کــوڅــې لاري وې بـدلـي ،وو څــه بل کيفيت
وو پــرې تېر شوی پردی پل کلي ته کــم راتلمه

**سنګريار** خپلي هوډې بيا بيا پر دې لاره تېر کړم
وو د دښمن زړه کــې اور بل کلي ته کــم راتلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁

دازه لکه ماشوم به وېرېږمه ترمنزله
دستورو په رڼا چي به راتلمه ترمنزله

چي کله به مي ستا دتورو سترګو ديدار وکړو
روان به وم په لاربه ځنګېدمه ترمنزله

هغه سرمايه ټوله ستا سو چم کي رانه غلا شوه
لوټ شوی وم وپرځان چي ژړېدمه ترمنزله

پښتون ومه پښتون ضميرمي ماته نه منله
په هر څو ناوسي کي جنګېدمه تر منزله

ناترسو پرېدی جنګ کلي ته راوړی کلی سوځي
چي ځم کډه په شا ښېرې کومه ترمنزله

هروخت به **سنګريار** ستا په يادونو کي مشغل وم
له تاسره ملګری رسېدمه ترمنزله

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

که وه پرې هرڅو پابندي زما به دید ته راتله
ه ـغې پاللـه به یاري زمـا به دید ته راتله

ه ـــر یو قدم به یې مدام زما په خوښه ږدلی
په کې وه ډېره وفایي زما به دید ته راتله

ما د هغې په سر هر څه ته ځان کړو ځکه تیار
بـاندي پـوره ولـه سیالي زما به دید ته راتله

څه دي ؟ نه امن او نه سوله پر وطن مو راځي
خود مو چپه بخت ازلي زما به دید ته راتله

ببلتـون پاخـه راته د دوبې پر ولمه وارول
آشنا کړه شروع نا آشنایي زما به دید ته راتله

د **سنګریار** ورځې او شپې ستا په وصال تېرېږي
تر منځ مو مه شه جدایي زما به دید ته راتله

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خـلاف يې کښلي تـوره د ننګ مخکې تربور
ځکـه پـر ښـا ځمه له جنګه د جنګ مخکې تربور

ما ته د ده مرګ د ځان مرګ ښکاري پر ښا ځم په دې
خـو دی په ټولو کې زما په وژنګ مخکې تربور

مالیـاره یـاره ښاخ یې مـه ثنده وا الله کې لـري
غوټۍ د ثانګي مي وهلي په زنګ مخکې تربور

خلک لـه ښـامـاره دم کشي کړي پاړوګرو ته ځي
ما ته لـړم بغل کې پټ راکړي ډنګ مخکې تربور

زمـا جـونګـړه د وحشت بادونـو ړنګـه نـه کړه
خـو نن يې غـورځوي هغه تر ګړنګ مخکې تربور

ګـوتې تړي ګـوره **سنګرياره** پخـوانی متل دی
لکه مېږوی په تياريکه وي سخنګ مخکې تربو

**د زړونو تر منځ کرښه** ............................ **نصيب خان سنګريار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

ده جدايي ترخې لمحې جانانه چېرته لاړې
بې تا مې ګرانې ورځې شپې جانانه چېرته لاړې

ببلتون پر خوږ زړګي زما همېشه مالګې پاشي
تر تن مې ووتې چړې جانانه چېرته لاړې

بې له تا خوند ګرانه د کلي مازيګر کې نشته
سپېرې د کلي دي کوڅې جانانه چېرته لاړې

د شبنم غوندې اداګانې دي پر زړه را، اوري
ستا ګلابي شونډې پستې جانانه چېرته لاړې

لمحه لمحه مې ده ويرجنه ستا په ياد کې اوس هم
ترخولې مې وزي غلبلې جانانه چېرته لاړې

دا ستا فراق يې اوس د سترګو نه خوبونه يوړل
په **سنګريار** وې شوکيرې جانانه چېرته لاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لــه ډېــره وختــه مې نــــــیولې ده روژه ماتوم
ساقي جامــو نه راکوه بس دی تــوبه ماتوم

چي مو د قام د ترقي په مخ کي خنډ جـــوړېږي
د داسي تـــورو ،رواجــونــو پېــــمانه ماتوم

هــوښیاران واي ده ازل فیصلې شـوي دي خو
زه بد قیسمت پــه دې اختــه یم فیصلــه ماتوم

باداره څه یې رالېــږلي دي او څــه بــه وي دا
پــه ډېــره مینه ده اشـــنا ده لاس تحفه ماتوم

بې یاره ژوندلکه ماهی چي څوک پر مځکه کښېږدي
داسې خپلې زړه خپلــه سینه کــې پــه غــوټه ماتوم

شاعر په ډېر ښایست د یـــارد مخ صفت کړی دی
**سنگریــار** شاعــر په شعر باندي لمبه ماتوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

ماته ده ستر ګوتر تور ګران وې او س ارزانه شولې
ته بې پښتو ته بې وعدې ته بې زبلنه شولې

هغه دې اد مرغه چې اوسېدو زما په زړه کې
له زړه مې ووتې جدا ګرانه جانانه شولې

زما له زړه دې کډه وکړه د بل زړه ته لاړې
لکه کوچۍ پر زړه مېنه پښې ماته شولې

اوس مې سينه کې زړه بې ياره بې اسرې پاته دى
هيلې مې ماتې شوې نيمګړى مې ارمانه شولې

ستر ګې مې دواړه شوې کږې په انتظار ور پسې
لاړې پر کومه ورک زما د زړګي خانه شولې

ده **سنګريار** د زړه په کور کې ده چاودنه وکړه
طالبه ياره ناکام هم بې ايمانه شولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

ده سترګو نور ده زړه قرار مي راته ډېر یاديږي
ده روح سکون زما دلدار مي راته ډېر یاديږي

پازیب په پښو نتکۍ په پوزه شنکۍ خال په څنه
ده ښایستې پېغلې سینګار مي راته ډېر یاديږي

هره لحظه هره ګړۍ مي په زړګي را اوري
نازېین یار او ګلنګار مي راته ډېر یاديږي

باداره ورک رانه په ډېر وخت دی په لري وطن
مسافر یار مسافر یار مي راته ډېر یاديږي

باداره نور یې د بارود په لمبو مه سوځوې
ده افغان خاوره کندهار مي راته ډېر یاديږي

ریباره ورشه حال مې وروړه والله مرم ورپسې
سلام مې وروړه **سنګریار** مې راته ډېر یاديږي

**د زړونو تر منځ کرښه** .............................. **نصیب خان سنګریار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه خو د خپلي غاړي هار نه غړوندی کړمه تا
نه دي باهو نه دي د سپین مړوند بنګړی کړمه تا

ده بیلتانه بلا دي په تانده ځواني داسي وچ کړم
لکه دا زه چي د هیڅ نه یم وچ لرګی کړمه تا

څومره لمبې مي ستا فراق په زړګي تېري کړلې
هغه انګارکې سپېلني غوندي لوګی کړمه تا

ده عشق طوفان زما د زړه مېنه وېرانه کړله
د کار سړی ومه ، بې کاره یو سړی کړمه تا

**سنګریار** ستا په خوله ژوندی ومه هم مړ ،وم ګرانه
نه دي له ځانه څخه لېري نه زړګی کړمه تا

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکـــه مـو سـم دلـــته دا رنګه انسانان بدلېږي
دلــته هم مینه هم ښکلا او هــم جانان بدلېږي

دمومن خان اوشېرینوغوندي اوس څه غواړي څوک
دلــته خنـدا ده لبـاسي دلـته هر ځوان بدلېږي

اوس تـرمطلـبه یـارانـه ده چاکې نشته وفا
مجبوره وخت کې د پـرېدو غوندي خپلوان بدلېږي

زمـا بد بخــته قام تـه دا سـي سـودا ګــرراغلی
ضمیرخـرڅېږي ځان خـرڅــېږي هـم ایمان بدلېږي

دښـوا مېد بــه لــه چانه کـړې **سنګـــریاره** یاره
په خوله یوه زړه کې بې بلـه وي یاران بدلېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


❋

تل کړېږم وربې تربې ، ستا د دید مې اندېښنه وي
چې تا نه وینم جانانه، په زړګي کې مې لمبه وي

تول ورځ په دې سوچونه کې شي تېره ، غمزده یم
ته به یې ، پر کومه مځکه دغه غم مې راسره وي

ستا له وجې زما ګرانه ، دا ستا غم هم په ما ګران دی
شپه او ورځ زما په زړه کې، راسره دي وسوسه وي

په وفا دي بیلتون پالم ، په وفامي ځای ورکړی
په وفا دي کوم مینه، د وفا مې اراده وي

زه تر جاریمه هر کله ، **سنګریار** که رب زما کړ
د ده زړه را مالوم نه دی، زما زړه کې همیشه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

ماچې بېلاس و رغـــځولو د وفا ملګـــرو
هـم د هغـه ښکلې ښــېرا شولـه ، دعا ملګـرو

ده ښکلو ښکلې ښکلې مینه او ښکلا ته سلام
په یـو نظـر مې زړګی روغ شي بې دوا ملګـرو

د یار کافو نظر مې داسې سره تـوې کړې یو دم
لکـه چې باسې عـزرائیل د سړي سا ملګوو

نه پرې پوهیږم چې دښمن دی او که ښکومی مې دی
کلـه رقیب ځـان تـه نزدې کـړي کلـه ما ملګرو

تـرېنـه قربان شم راته بیا یې نوی ژوند راکـړلو
یـو غـرځنـي نجلـۍ چـې وکـړله خنـدا ملګرو

ډېرې مودې و شوې چې ورک دي رانه هغه سـړی
چې **سنګریار** نومېږي ، یار دی د هر چا ملګـــرو

(c) ketabton.com: The Digital Library


عجبه زړه دي او عجبه ، خوښوني کوي
یو ښکلي خپل کړي بیا د بل ښکلي غوښتنې کوي

باداره غرق یې کړې او خوار یې کړې ذلیله یې کړې
په پښتانه قام کې چې هر څوک لاس وهنې کوي

باچا زړګی مې خپله اوري خپله خپله کوي
نه اوري بل څوک ، خپله خپل ځان ته ښوونې کوي

اوس مې زړګی په دې قائله کړلی ور به نه شم
اوس که اشنا راته تکرار د بلې کوي

ولاکه پاته شولو روغ وجود زما ملګرو
دا توري سترګې یې په زړه زما چاودنې کوي

د **سنګریار** زړګی به څنګه شي کوګلې کې پاته
هر څوک چې وا ورمه د حسن دې ستاینې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې تاخو ګراني د ژوندون سختې شپې تېروم
هسې روانه ګـزاره ده بـې تـا شپېږې تېروم

د مينې دغـه دود دسـتور ته زه حيران پاته يم
هـغه بې غمـه زه مئيـن يې اند ښنې تېروم

يـو ځلـي سر تـرې غوځـومـه ترې چاړه باسمه
بيا جنـازه د تـور رقيب ستا تـر کوځې تېروم

يې مي لـه حالـه ناخبره کـه مـي حال نه کـوې
پـر تا مئين يم ستا سو کلي کې غـرمې تېروم

کـه يې ته و منې په بـر ګـودر کـې زه لـېونی
ما زيـګـري همېش و تاته بنائيستې تېروم

په انتظار په لوېه لار کې **سنګـــريار** کښېنمه
پېـړۍ خـوبوي پر ده ستا را تلو ته زمـانې تېروم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پــه خـــوا سترګې روا ړ وي کـتنـه وکړي
ده زړه په کور کي مي قاتل نظر چاودنه وکړي

له هغه چا سره مې نه کېږي وخت تېر ملګرو
زمـا پـه کلي کي چي هر څوک لاس وهنه وکړي

لکـه د مـوم په شانې ویلي شي نیمی پاته شي
چې د رخصت په وخت کې یار یې لاس نـیونه وکړي

زه وایم تل راسره مل وای ،ټوله ورځ ږغیدای
چي ریبار راشي اود حسن دي ستائیـنه وکړي

چي پــه نـړۍ کې تـر ده بـل مـخور نه شي پیدا
ده پښتانه ماشوم د خداي داسي روزنه وکړي

څو د به راکړی ستا تصویر سنګریار غېږکې وي زما
راتــه د تېـر وخت کلـه کلـه یـادونـه وکـړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې وه سترګو ته کجل جوړوې
پوهیږم بیا راته اجل جوړوې

ښکارې چې نن وما ته چل جوړوې
ته چې زلفانې په ول ول جوړوې

ظالمې بیا به مې په غم واړوې
ته چې شانه وانه اوربل جوړوې

ماشاالله بیا څومره ښکلې ښکارې
بیا مې و سپیني ځُلې ته غل جوړوې

ده **سنګریار** زړه به سرپولي شي ګرانې
که یې له ځانه سره مل جوړوې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا ښکلي ټـول زما خـــوښېږي قدرتي قيصه ده
خـوږه مـې تـا پـسي خوږېږي قـدرتي قيصه ده

مينه دي داسي زمـا زړه کې لکــــه ګل غوړېږي
او خـوشبويي تـرې پـورته کېږي قدرتي قيصه ده

که جانان ووايم چـې ډېر راباندي ګوان دی ترځان
دغــه د چـا وه زړه تـه لـو يـــږي قدرتي قيصه ده

دی چي مي څومره هيروي دې امتحان ته ګورئ
مينه يې ورځ په ورځ زيـــاتېږي قدرتي قيصه ده

خـدای خـودي نه کړي چي تـو منځ مـوجـداي پيدا شي
ويـره لــــه وېـــري پـيدا کېږي قدرتي قيصه ده

دا حقيقت دي **سنګريار** ه کـه دي خـــوب ليدلـی
چـي نـن رقيب درتــه درېـــږي قـدرتي قيصه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

راځه راځه الله دي راولـــــــــه اختـره راځه
زېړی د امـن راتـــــــــه راوړه بختوره راځه

مـورږ درتـه وایو ښـه راغلې او هر کلی پـه مینه
زمــــورږ جـانان جـانان جـانانـه دزړه سره راځه

دخوشالۍ فیضاخپره کړه په پښتون وطن کې
د خنـدا ډکـــه لمـــن راوړه منـــوره راځــــه

بیا مو ویدي جذ بې بیداره کـــړه په مینه مینه
دمستۍ اور مې په رګو کــــړه زوروره راځه

چـې پېغلـې بې اپـه سرولاسونـو تمبلـونه وهي
د خـوشالـــو د سبـاؤن رڼـــه سحـــره راځـه

ما **سنګریار** درته هر وخت لاس پـه دعـانیولي
پخــیر راغــلې زمـا یـاره مسافـره راځـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library


✿

ده آزادي ناري وهم ګوره پر شا به نشم
پښتون وطن آزاده وم ګوره پر شا به نشم

پښتون زلمي يم پښتونوا له مې په زړه کې اوسي
پر وطن سر قربانه وم ګوره پر شا به نشم

ترهغو نه کښېنم قرار ترهغو ساه نه اخلم
پښتونستان به جوړوم ګوره پر شا به نشم

دآزادۍ سبق خوشحال اوصمد خان راکړی
دننګيالو په لار به ځم ګوره پر شا به نشم

زه د خپل ګران وطن په ګرانه مينه شپې تروم
غليم له دې خاوري شړم ګوره پر شا به نشم

**سنګرېار** سر پر وطن ږد **سنګرېار** جار تر وطن
پښتنه خاوره به ګټم ګوره پر شا به نشم

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

ګوري آئينه کي ورته ډېـــر ښکلـى **خپل** ځان ښکارېږي
زما و جانان ته دا **خپل** ځان په کي جانان ښکارېږي

وخت د سپـرلي اوس د غــوټۍ ده غوړېدو راغلي
تـــــر ځان به خـو دو رتـه په کمـه نو ګلان ښکارېږي

زه غــــرنى يم اولـــه غــره ځخـه راغلى يم اوس
پـه مينه ژونـد په ښار کي خود راته ځه ګـران ښکارېږي

په ستـړي وخت کې يې مدام راسره کړې مــرسته
ځکـه پر دي تر خپلو اوس راته خپلوان ښکارېږي

دا چي قتلـــېږو **تل** ديــو **بل** پـه نامـه باندي مــوږ
ما **سنګـــريار** ته مـــلامت **خپل** مـــشران ښکارېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


✵

پـرې به دي نـه ږدم و رقیب ته په ما ګران وطنه
دا ستا د پاره به خپل سر ږدم په میدان وطنه

پښتون به نه یم کـه مې و نه کړ، پر تا باندې ننګ
په مـا دی فـوض ستا حفاظت زما جانان وطنه

پښتون زلمي یم بې ننګي مـې خپل ضمیر نه مني
قـربانـه وم ستا پـر تاریخ بانــدې خپل ځان وطنه

افغان وګـړي یـم جـذ بـه د ـــم افغـاني لـرمه
څنګـــه دې پرېږدمـه اغیارو ته افغان وطنه

**سنګریار** مینه د وطـن لــــرم ، مئین یـــې یمه
مینـه دې نـه وزي لـه زړه زمـا په ایمان وطن

**د زړونو تر منځ کرښه** ............................ **نصیب خان سنګریار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانه خفه تللې اشنا ورشه ریباره ورشه
د زړګي سر که را پخلا ورشه ریباره ورشه

د روح قرار د زړه سکون مې تښتېدلی پسې
ورپسې یم سر په ژړا ورشه ریباره ورشه

زما د سر پر سودا هم ورسره مه چپېږه
تر منځ مو روغه کړه پیدا ورشه ریباره ورشه

ما ته تراوسه لا د کړې ګناه پته نشته
چې شو پر خه را نه جلا ور شه ریباره ورشه

د سترګو تور رانه پر نه څه کړې بدلې لاري
ورکړې خود ده چا صلا ✻ ورشه ریباره ورشه

د درسته ښار پېغور یې وژني بله لا رنه لري
**سنګریار** ګوځې یک تنها ورشه ریباره ورشه

..........

✻ صلاح ، مشوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



✻

نـوروتـه نـه وايم پـرچـا مين يـم
ته خـــوخـبره يـې پرتا مين يـم

غـــرڅړۍ تـــارانـه زړګــی وړی دی
پــرتـا ښڅکاره او بـرمـــلا مين يم

وتلـې خولـه مـي ګـواهي ورکـوي
چــي ناروغ نــــه يمه صـفا مين يم

د نــــورښائست خبريې نه کـــومــه
زه يـې ده ستـرګو په ښکلا مين يم

که مـي له زړه څخه پُښتي **سنګريار**
زه پـودې خپله پښتونخـــوا مين يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



✻

کلــه رایــادشي راتــه دا چې ښائښتې ویل نن
وماته ډیر خوانـد راکوې ، راتـه هغې ویل نن

دا سـې بلا پـه بلانـه شمېرم یقین مې دی اوس
هـــــره بلادې شـه رنـــده راتــه ادې ویل نن

دا د غفلـت پـه خوب ویده پښتانه مـه ویښوه
یواځې ناست وم په تیاره کې توری شپې ویل نن

دلـته ژوندګران شو ځودخان او د ملک له کلې
چې باربـدلــه د خــوارانــو قـافـلې ویل نن

زمایقین دی په ازل کې به مو لیک وي قلم
و **سنګـــریار** ته یـوې ښکلـــې پښترې ویل نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـــا ارمـــان زمـــا درمـــان زمـــا لېمه دی جانان
زه يې لــه ځانــه څنګــه لېري کړمه زړه دی جانان

دزړه دنيامي پــرې رنګـــــينه ده ودان يم په ده
زمــــا ژوندون زمــابقا زمـــا هـرڅه دی جانان

تـــل دهغـــــومني چې تـــل يې اړوي پـــــه بده
زمـا اخـبروتــه غـــــــوړنه نيسي سـاده دی جانان

سپرلی سپرلی وږمـه وږمـه غـوندي اد اوي لــري
دښکلاګانــوجادوګــــــــــردی آئينـه دی جانان

زه **سنګريار** بــه يې هېرنه کړمه په هيڅ حالت کې
زمـــا امېدزمـــا ارمان زمـــــا آسره دی جانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چاته ورشم چاته کښېنم هدیره شو خدایه
افغان وطن مي لوټې لوټې کنډواله شو خدایه

ولي بــه نــه ژاړم زما پــه وینوسُـر کابل جان
سپـین پښتانه پکې قتلیږي قصابـه شو خدایه

چي امن غـــواړي هــم ناري دامــن واړه وهي
بیا ولي جنګ د پښتنو پرکوردېره شو خدایه

ستاپــه نـامه مي دی قسم زه په شرمـېږمه ډېر
دنـړۍ هـرانسان زمــاپــه ننـداره شو خدایه

پــه خــولاکــوم یې دماشوم عادت له وخته لري
له **سنګـــریار** ځاړپـه نه څه چې خفه شو خدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

يــوې خندا يې رانـــه زړه يوړو كوچۍ وخندل
ګوته په غاښ شوم ورته پاته شينخالۍ وخندل

راتــه پـرون ببلـــتون دخداى په اماني وويل
داښ م ـي ځكـــــــه مـروري ګلالـۍ وخندل

لـه هغې ورځې مي سينه كې دى زړګى بې ځايه
چې تلـــه پــه لـوري دګودر راته نجلۍ وخندل

تروس وتلې ځــكــه هـــرچاته فــرياد كومه
راپـــوري خلګـــوددې واړه دنياګۍ وخندل

چې د خداى خوښه وي نوداسې **سنګرياره** كېږي
ځنګـه لــه مــرګـه شوه راپورته ملالۍ وخندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چاچې مینه، مینه، مینه د کتاب کړې ده
ترقي هغه قام نړۍ کې په رباب کړې ده

په دې نظام کې مې د قام د سیالۍ برخه نشته
ځکه که خو موږ نعره هر وخت د انقلاب کړې ده

هلته بس نوم د غدارۍ را باندې کښېږدي هغه
چې کله هم موږ ترې غوښتنه د حساب کړې ده

عمل لــــه دې سره تعلق نه لري زما په نظر
دې لېونۍ چې بوسه یې په نقـــاب کړې ده

بیا دې ببخي په لار کې پاته شي اغزي د کاروان
چې **سنګریاره** اراده دې ده ثـــــواب کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کافرعادت مي د يارګـوره بدلې ده نه کوي
لبـــاسي مينه خـوکـوي مينه دزړه نه کوي

درقيانـوخومجلس لـره هر وخت وردرومي
زمـوږوخـــواته يـونظراوښه کاتـه نه کوي

تــه شـــرپسنده يې زه امـن ترهرڅه خوښوم
زمـــاقدم ستاپرقدم چـي سمېـده نـه کوي

مــااوهغـې تـولي خـــبري په ښوکي وکړې
داچـاويلـي دي خـبري چي بـــانه نـه کوي

وريسې وي به يې ازارچي يې بندي ساتلي
دا وزرماتي مـرغان ګـــوره الوته نه کوي

پرون ښېلــتون ورته دخداى په اماني وويل
زياته پـرځنګ **سنګريار** نوراوسېده نـه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁

یــوازې دغــه نــه ده دقــامــونو تــرمنځ کرښه
راکښلـې ظالیمانــوده دزړونــوتــرمنځ کرښه

یــووخت خــوبــه ختمیږي ترابده به هم نه وي
یــووخت خوبه ورانــیږي دزامــنوترمنځ کرښه

دذات اوپات خبــره به یووخت لـه منځه ووځي
ټــولــیږي بــه ضــرورد سرحدونوترمنځ کرښه

په خپل مجلس کې دارنګه سړی ګورئ پرې نه ږدئ
چې کاږي په محفل کې دفکرونوترمنځ کرښه

مـاستاهـره غــوښتنه پـرځای کـړې وه جانانه
لیک شوې وه ارمانه د بختونو تر منځ کرښه

کتاب به **سنګــریار** وؤ ستاونوم تـه ډالۍ کړی
کــه نـــه وای داده تــوروروا جونوترمنځ کرښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قربان وطنه

ستا تـر دې هسکو هسکو غرونو شم قربان وطنه
در کې او سېږې پښتانه پښـــــتونستان وطنه

وطنه ستـا دهــريــو خـــړ کلي کو څوته سلام
پـــه کي او سپږي شملور ،واړه درنو ته سلام
تـــرتـــامي سـردى صـد قــه افغانستان وطنه

نه دي تـــرننه دزمـــريانــو چا حساب کړی دی
نــه دبې شمېره تـوريالیانو چا حساب کړی دی
ورتلــه دروتــه امتحـان ستـايــا غيستان وطنه

وطنــه دومـــره وس لرم دومره خدمت دي کوم
چي په شعرونو کي دي ستا يمه صفت دي کوم
دبې ګنـــيو دراتللـــو قـــــبرســــتان وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلـــه اخته يې کړې په غم زړګيه ودې ليدل
ورتـــه ويل چې دې صنـــم زړګيه ودې ليدل

دې بې وفا ستـــا دوفا بدل کې څه درکـــړلـــو
ځې دې تـــردوا ړسترګـــونم زړګيه ودې ليدل

يوه غرڅنۍ نجلۍ مې هر وخت په زړګي کې اوسي
ښکلــه يې کړم اند ېښنې تم زړګيه ودې ليدل

دعشق لمـــبې دهغې پېغلې پــرتاتل تېرېږي
پـــرتا يې جـــوړکـړلی ماتم زړګيه ودې ليدل

لــــه **سنګـــرياره** سره چې چامدام جفا کړې وه
نن هغه تـــول ګـــرځې سرخم زړګيه ودې ليدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



✿

نه يې تر خوله ټکی ايستلی نه حالونه باسي
پښتنه پېغله ده په اوښکو ارمانونه باسي

پُرخوله يې ايښي غبرګ لاسونه اظهار نه شي کوای
پښتني ميني ته بد دعا کوي لاسونه باسي

چې به په لار ده ترقۍ کې راته خنډ جوړېږي
له پښتانه قام دی خدای دا سي رواجونه باسي

ده ها ظالمي ده ظلمونو انتها ته ګوره
راشي ګودر ته په بڼو ده خلګو زړونه باسي

بيا يو ظالم نن په ډير ظلم ناوکۍ کنډه کړه
له خپله سره زرغون تار باسي شالونه باسي

وطن برباد شو قام برباد شو بربادۍ ته روان
تر خپل قلم **سنګــــريار** ځکه فريادونه باسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

په دې همـ نه يم چې د ځان مې ته جانانه نه کړې
بېلې مې ستا وسوسې هيڅ کله له ځانه نه کړې

د بېلتانه د ژمي لـوېـو شپو کې وخت تــېروم
په دوم‌ره لويو شپو مې هم پوره ارمانه نه کړې

څو مره مې د ې‌رتوکانې سخته د رته وژړلـو
څنګـه مـې تـه پـېرهغه خـواره مېربانه نه کړې

دا چـې کـوې‌ږې دا عادت دې د رقيب رانبکاري
ګـوره چـې ورکـه خپله لاره له کاروانه نه کړې

**سنګـريار** د مېنې نوم به پورې يادکړې يو څوک
زماجونګـړې په ژوند ون که مې ودانه نه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــــوارشــو بــربادشــولــوماتم شو هديره شوخدايه
افغـانوطن مي لـوټي لـوټي کنډوالــــه شوخدايه

زخمي زخمي شولوکابل تـرېنه ســـرېوينيڅاڅي
سپين پښتانه په کي قتلــــېږي ويـرانــه شوخدايه

داسي پــرڅـه باندي شـــو ،وه ،اوداسي ولي کېږي
پښتون لګيا وژني پښتون په جنګ اخته شوخدايه

دومره ځای نشته په وطـن کي مـوچي کښت پـــرېوکړو
ټــولـــــه وطن دی نړېدلی خــــرابـــه شوخدايه

لابــه تــرڅــودپښتــنيوينـي سېـــلاب روان وي
**سنګــــريار** ويــرکـــوم په دې مي زړه خفه شوخدايه

(c) ketabton.com: The Digital Library


❋

لکـه چي نېغه يـو څـوک زما ترزړه نېزه وباسي
هغـه چي کلـــه لار په زلفو کي کـړه وبـاسي

وبل ته شوندي ورکـوي وايي ثواب دی په کي
وار چي زما راشي بزرګــــه شي توبه وباسي

څوک کـړي ګلان راتـه ډالۍ څوک حوصلـه راکوي
څـوک مي لـــه زړه دارمانـــونـــوجنازه وباسي

رقيب دنه ســـړي بچی دی ســـړی کېږي کلـــه
هسي لانجې کـوي چي ځان لره پايده وباسي

لـــه **سنګريار** نه به هم هېره شې چي تاهېرکړی
دی به دي هم له خپله زړه سوکه سوکه وباسي

(c) ketabton.com: The Digital Library


❁

دزړه له درده چي وي‌انه شوه نو ورانه ښه ده
چـي جدای موترمنځ راغله نوجانانه ښه ده

مـاه مد نه ورتلـو قسم کـړی دی نه ورځمه
چي رانه هېر دي بې وفا کړلو هجرانه ښه ده

هغـه زمـــــا د ارمـانـــونـــوحساساتوقاتل
رحمت تر بند ساته چې خوارګرځي اسمانه ښه ده

سره پوهېږو نه ،زه دوی اودوی پهماڅه کـوي
چي څومره ما لېري له خلګو کړې دورانه ښه ده

زه **سنګریار** به خوله ګنډم خو له نامه څخه ستا
ته چي لـــه بلـــــه نه بېلېږې دغه ګـــرانه ښه ده

**د زړونو تر منځ کرښه** ........................ **نصیب خان سنګریار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رقیبه مات دي شه مغـزی دا سي دي ولي کول
زرې زما دي کـــړی زړګی دا سي دي ولي کول

څوک چي زما ؤ زما ځان ؤ تا هغه ستړی کړو
ته خو مي ورور وې سکنی دا سي دي ولي کول

میني دي دا سي لېونی کړم او س ملنګ یمه زه
را پـــوري خاندي هر سړی دا سي دي ولي کول

د پلـــتون څـــړیکي مي د زړه وتل ته ورسېدې
ښخ مي د زړه په سرا زغی دا سي دي ولي کول

**سنګـــــریار** ژوندون بې تا بغیر نیمګړی ښکاري
د رپسي ســـم دی لــــېونی دا سي دي ولي کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



❋

ګـــــراني لــه ما چي ببلېدلې څه غمجنه شپه وه
دغم سکــروټې اوربـــدلې څـــــه غمجنه شپه وه

ستا وتصويـرته مي کتل اوښکي مي تلې پـرګرېوان
تـــرسترګو سترګـو مي کېدلې څه غمجنه شـــپه وه

دبېلـــتانه طــوفان دي وؤزمـــا پــــرزړه راغلــی
اوښکـــي مي مـــړې مـړې تويدلې څه غمجنه شپه وه

ســـتا دغمـــو نـــو نــه وو زغم تـرخوله مي چغي وتې
کلـــي مي ناري اوربدلې څـــه غمجـــــنه شـــپه وه

سېلاب داوښکـــورالــــه وران کـــــړو دبڼـــو ورخونه
دغم چپې پـــرزړه راتللــې څـــه غمجـــــــنه شپه وه

د **سنګـــــريــــار** دزړه په حال هغـه وخت خدای وؤخبر
چـي تـــرې نه ته جـُــدا کېدلـــې څــه غمجنه شپه وه

**د زړونو تر منځ کرښه** ............................ **نصيب خان سنګر يار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



✻

خفګان راته په برخه دی ، خفګان مي همسايه دی
آرمـان راتـه پـه بـرخـه دی، ارمان مي همسايه دی

اوس خـو مــي پر کور ښې اوښادی، چار پېره ګرزي
کلـي تــــه راغلـی دی جانان مي همسايــه دی

بادا ره د ستــم غشــي يــې ځــان ســـره راوړي
دوران راتــه پــه بـرخه دی دوران مي همسايه دی

د جهل په تـيـا رو کې يې خپل قام دی را ګېر کړی
دی خان راته په برخه دی ،دی خان مي همسايه دی

د اوښکـو سيلانونه پرې راځــي او پــرې تېريږي
ګـريوان راته په برخه دی ګريوان مي همسايه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

بلاوي د نفـــــرت په کي سکون کوي او سېږي
ورځ پــه ورځ مي زړه له د غه ښار څخه توربږي

خير دی کــه په قام او خپل ولي کي مينه نشته
يو دا سي وجود شته چي زما زړګی په هو سېږي

که چېري انصاف ونکړو انصاف را سره نه وي
هم دا تـــــوري ږلۍ به د نفـــرت پر مو ږ اوربږي

څـــه شـــو خـيرخـــوااو مشـــران زمـــو ږ د قـام
لــه کلي څخه کډي ځي په شپه او ورځ باربږي

زه **سنګــريار** وړی يــم بـــاداره مــدام فکـــر
چــې ولــي زمــو ږ کلي په اورونو کې سوځېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

لا سونه ســـــره ورکړئ یوالي راوستل غــواړي
تـــــــرڅو به غلامان یو آزادي راوستل غــواړي

ترڅو به د نفاق اورونه زموږ ،منځ کــي بـلېږي
په کومه ورځ به د غه خوار پښتون سره یو کېږي
راځئ چي سره یو شو اوسیالي راوستل غواړي

ترڅو بـــــه موږ پرخپله خاوره ګرځو بې اختیاره
لـــه ځـان اولـــه جهانـــه نـا خبـره یو باداره
اسانه دي هرکار خوورورولي راوستل غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁

پولي خوبه جوړي کړو په دې خاوره کې خپله
تخمونه به هم راوړو له لوړ له لوره يوله بله
چې ويې پالي دلته يو مالي راوستل غواړي

راځئ پښتنو وروڼو دغه وخت د اتحاد دی
د هر ظالم جابر خلاف په کار مو ږله جهاد دی
سنګر له **سنګريار** ه توريالي راوستل غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



❋

که زه شهید شوم پر کفن مې لا الله ولیکئ
پر کتبه مې نوم د لوی پښتونخوا ولیکئ

چې هر زلمي کې شي پیدا د آزادۍ ولولې
د تن په وینو مې تاریخ د خپل بابا ولیکئ

چې د ملي وحدت نعرې له هرې خوا شي پورته
د ننګ قصې د پښتنو پر شا و خوا ولیکئ

چې د غلیم په زړه کې جګ د غه اغزی پاته شي
دا پښتانه د لراو بر په یوه سلا ولیکئ

ما **سنګریار** که د وطن پر نامه سر ورنه کړ
زما پر قبر بېغرته څامخا ولیکئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورانه ويجاړه شوه زما د اميد وجنازه
خود به مي وځي له زړګي د ارمانو جنازه

پرتا ميئن يم له تا سره زه مينه کوم
اوس به دي باسمه په خپلو تړانو جنازه

د ګوان مي ګرانه مينه ډېره راته ګرانه شوله
پاته به نه شمه ژوندی وړي د ګرانو جنازه

ساقيانو واک دوخت ملاته په لاس مه ورکوئ
په خدای درباسي د دې پاته ميخانو جنازه

وخت به ثابت د **سنګريار** د قلم توري کړي بيا
اوس خو د ربښکاري هسې هم د افسانو جنازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

دغــه رنګــه ټپي وجـــود درځم دیددي کوم
نازکي هسي چـــېرتـــه دي پرېږم دیددي کوم

والله کـــه مي دا ستامینه یو رنګه له زړه وزي
ګړی، ګـړی، ګـړی دی یـــادوم دیددي کـوم

دبــرګــودرپرغاړه دسرې چینې په ځنګه کي
تـــل لاري دراتلـــودرتـــه څارم دیددي کـوم

ستامینه مـي ژوندون دی زه پـه تاباندي ژوندی یم
پـــه زړه،زړه کـي دي ګراني ګرځم دیددي کوم

لـه مانه به محبوبې هېره نه شي په هیڅ حال کي
ستامینــه **سنګــریار**زړه کي ســاتم دیددي کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

لــه یـاره ببېل کــړمه اغیـــار ، رانه ژوند کډه کوي
پـــرځـای مي نه کـېږي کـرار، رانه ژوند کډه کوي

دلـــته وګړي دي ماتم غمجن دلتـه ماتم دی مدام
غم مي پرزړه جوړکړی پرهار، رانه ژوند کډه کوي

د لمـر پـــه شـــان د یـارو مخ تـه زه کتلای نشم
ګران یې دی مخامخ دیدار، رانـه ژوند کډه کوي

خیردی یـو ورځ به یې راکـوزکړمه له تختـه څخه
نن دي مستي کـــوي اغیـار، رانـه ژونـد کډه کوي

د **سنګــریـار** د زړګـي یارو ائي سلام پر سنګـــر
خـــود یې محبت ســولــو په واررانه ژوند کډه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتو مه هېروه

هیڅ کـلــه ثـقافــت د پښتنــو مــه هېـــروه
پښتـــونه ســوال مـي ومنــه پښتو مه هېروه

اباد کـه دي پـه تا پردي ملکونه پروا نشته
ودان دي کـه پـه تـا نور محلونه پروا نشته
خـــو خـــاوره مستانــه دلېونــو مــه هېـروه

چي هوش يې د سيالۍ غوښت په مدهوشه بې وسي کي
وو شـور د آزادۍ يې په خاموشه غلامي کي
احســان د خـان شهيـــد د زولنـو مـــه هېـروه

هر غرهره ، دره هر یو سنګر په وینو ستارنګ
هرغم او خوشالي او هر اختر په وینو ستارنګ
بـــدلــه د خـــوينـــدو مېنـــدو د پردو مه هېروه

(c) ketabton.com: The Digital Library


راځئ چې د يوالي په لار سم شو اې ملګرو
لاسونه د وروري يو د بل ته ورکړو در په درو
خبري پښتواني د پښتونو مه هېروه

دستار د پښتنو بيا په نړۍ کې سربلند کړه
دا خپل ملي غېرت وهر دښمن ته ورڅرګند کړه
تېر شوې وخت د خپل قام د درنو مه هېروه

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁

رقـیبه ستـالــه دغــه وارڅخــه تنـدی ټیټـوم
زه د جـانان ، جـانان زما دی ستـازړګی ټیټوم

نورمي دخدای په مخلوق څه اړه ده کار دي کوي
یم چـي پـرچابنـدي میئن هغـه سـړی ټیټـوم

زمـادمینـي سپینـي مېـږي پـه لېوانـوداړي
له تـور ځنګلـه څـخه راباسمـه کوچی ټیټوم

داحمدشاه اودمیـروائیس پـرمېنه پاتـه یم زه
اخیـرمجبـوریـم ضـروربــه پېـرنګــی ټیټوم

چي په ځواني خو مو د دواړوارمان وخېژي لږ
تـرخپله وســه **سنګـریار**یـاره مـرګـی ټیټوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


پروت مي پرزړه دخان شهيد بابا ارمان جوړوم
رايوکوم به پښتانه پښتونستان جوړوم

چي له بولانه ترچترا له سي رايو پښتانه
دالوټي لوټي خواروبجاړکوردافغان جوړوم

چي ترمنزله پوري ورلی شي بېرغ په لاس کي
ګرځم په خلکو کي زه داډول کاروان جوړوم

چي مي دتوري پرځای وويني قلم په لاس کي
داسي دقام بچي بچی سيال دجهان جوړم

چي بېخي نوم بياد خپلی اوزئي نه پېژني
چي يوانسان پېژني داسي انسانان جوړوم

چي دپښتواودپښتون خدمت ته ملاوتړي
**سنګريار**دارنګه ځوانان هم داسي ځان جوړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

درانه درانه غـــــمونه زړه باندي زما تېرېږي
دژوندانه ویرجني شپې مي بې اشـــنا تېرېږي

دما ځګرخوارېه خوندونه بېلتون غېږکي یوړو
اوس هــــرساعت هرلمحه هم په ژړا تېرېږي

راته رقیب هم پېغورونه دبېلـــــتون راکوي
ښائیسته پټ مخ وي اکـثره ، یاپه غلا تېرېږي

خدایه دټولـوکه دخوکسوسزا راکـــــوې
داچي ظلمونه پرپښتون اوپښتونخوا تېرېږي

**سنګــــریار** دزړه سپرلی ستاپه لیدو شي سپرلی
کـه نـــوي نـــوي بهـارونـه پــردنیاتېرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل چي پښتانــــه د پښتني خاوري عزت کوو
داسي راته ښکاري لکه موږ چي عبادت کوو

رنګ مذهب او نسل ته مــوږ نه ګورو د چا کله
موږ د لته د هر انسان په سرسترګو خدمت کوو

کلـــــه مي د ښمنه په کږو هم لــور ته مه ګوره
مــوږ د ګران وطن ټول په سرونو حفاظت کوو

نــورو ته جنت کشمیر موږ ته ستا سیلۍ جنت
تــل به په دې خپل قلم خاوري ستا صفت کوو

دومــــره ننګ غیرت راســره چېري **سنګرياره** شته
هسي د شـــــپو تېر د هغــو تللــو په غیرت کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


پښتون اولس بس د لاهور له باداره نوخلاص کړي
خاونده نورمو له دې سپينو پنجابيانو خلاص کړې

چې د افغان په نوم روپۍ اخلي وطن ورانوي
ته دوی بر باد کړې مو ږ له دا سي افغانانو خلاص کړې

تر دې خو، نه يارانه ښه ده زه يواځې ښه يم
ما له بې ننګه عزيزانو او يارانو خلاص کړې

دا چې له وخته انسانان قتلوي ناست دي راته
که مي زارۍ قبلوې مو ږ له قصابانو خلاص کړې

چې پېښور کابل او کوټه قندهار بېلوي
ما **سنګريار** او قام له دا سې رهبرانو خلاص کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁

د ژوندګۍ قيصه چي ګډه وډه ورانه وکړم
ګله له نورو ، که ګله له خپله ځانه وکړم

دا نن چي ګوځمه شلېدلی ګويوان ښه مي وينې
اوس يې ګله د وخت خياط که له دورانه وکړم

چي خپل دښمن تر اوسه پېژني که نه ملګرو
زه به دا سوال په پټه له افغانه وکړم

تا سو د کوم مذهب او کوم نسل خبري کوئ؟
انسانيت دعوه په خدای چي له ايمانه وکړم

چې **سنګريار** دی په کاروان کې کوم سنګر نيولی
رهبره دا يوه پُښتنه له کاروانه وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

درانه درانه غـــــمونه زړه باندي زما تېرېږي
د ژوندانه ويرجني شپې مي بې اشـــنا تېرېږي

دماځگرخوارږه خوندونه بېلتون غېږکي يوړو
اوس هــــرساعت هر لمحه هم په ژړا تېرېږي

راته رقيب هم پېغورونه د بېلـــــتون راکوي
بنائيسته پټ مخ وي اکـثره ، يا په غلا تېرېږي

خدايه د ټولـوکه د څوکسو سزا راکــــــوې
داچي ظلمونه پر پښتون او پښتونخوا تېرېږي

**سنگـــــريار** د زړه سپرلی ستا په ليدو شي سپرلی
کــه نـــوي نـــوي بهــارونــه پــر دنيا تېرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل چي پښتانــــه د پښتني خاوري عزت کـوو
دا سي را ته ښکاري لکه موږ چي عبادت کـوو

رنګ مذهب او نسل ته مــوږ نه ګورو د چا کله
موږ د لته د هر انسان په سر ستر ګو خد مت کـوو

کلــــــه مي د ښمنه په کړ و هم لــور ته مه ګوره
مــوږ د ګران وطن ټول په سر و نو حفاظت کـوو

نــو رو تــه جنت کشمیر مـو ږ ته ستا سیلۍ جنت
تــل بـه په د ې خپل قلم خـا وري ستاصفت کـوو

د و مـــره ننګ غیرت را ســره چېري **سگوړه** شته
هسي د شـــــــپو تېـر د هغــو تللــو په غیرت کوو

**د زړونو تر منځ کرښه** ........................ **نصیب خان سنګر یار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مابـه هغيې، هغيې بـــه ماته کتل
اوزګار خونه وم چې مې تاته کتل

زه اوزه نه وو ، ته اوته خــــبري
داســي به ما ټــولي دنياته کتل

ســــره کـولې مـې دزړه خبــري
پـه دې خـوماوخپل اشناته کتل

په خـداى چې سترګې ترېنه وباسمه
که مې چابد و پښتونخواته کتل

ريـــباره زه يمـه شکـي پـه دغـه
**سنګــــريار** کلــه وسبــا تـــه کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه دي وباسي له زړۀ نه پرې پښېمانه به شي
د پښتون مرګ اسانه بولي ورته ګرانه به شي

چې له پرېدي جنګه لاس وانه خلواوس هم پښتنو
دومره سرونه به راپرېکړي چې ستومانه به شي

چې په پټ راز رانه خبرنه شي اغيار سرکوزی
دښائسته مېنه به رنګه شي او ورانه به شي

خيردی هستي ده که نېستي کله په خرپ نړېده
دا ستړی ژوندامېدلرمه چې آسانه به شي

هسي پرمابانديي تهمت لګوي دوی به ويل
د **سنګريار**په دغه خه دي بې ايمانه به شي

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس اموخته شـو مه، له اوښکو هم له غمه سره
خـیردی که اوس نه شم په څُلازه لـه صنمه سره

ستا پـــه لیدوزماوجـــودهـــم داسي وده کـوي
لکـــه یــــوګل چي تـــرتازه وي له شبنمه سره

ستا په دي بدصورت خوزه وړي نظـرکښېنستم
مغـروره اوس دي هـم قدم ږدم لـه قدمـــه سره

ستاله کوځې چي نه راګرځم پوه کوم دي په دي
سوم ستمګره اوس عــــادت ستاله ستمه سره

مطلب مي دادی **سنګریاره** دلته دود داسي دی
په جنګ اخته نن زورور دي له هر کمه ســــره

(c) ketabton.com: The Digital Library


درانه به ګورې درونډ به ښورې ده درنو کلی دی
دلته او ســـېږي پښـــتانه دا د پښتـو کلـی دی

چې مسافـــره وارخطانـــه شي بې غمه درځـه
یـــودروازه ورټکـــوه دمېلمـــنو کلـی دی

اوس چې بې ځایه دي بې کوره دي په چغو دي ټول
داده خانانـــو ملایانـــو دفتـــنو کلی دی

چې په کوم کلي کې د هر ګونډ ببرغونه رپي
دغـــه یـــې نخښـه ده چـې دا د پښتنو کلی دی

کله کـلـوری بـه شـم کلـه بـه ورځـم **سنګریار**
دا مـې د مینې هم د ژونـــد د آرمانـو کلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



❋

څڼکي کوي دا سي پـرهـاردزړه پــه کـورکي لرم
څوک پـه خبردي دغم ښـاردزړه پــه کورکي لرم

ماډالۍ کړی ورتــه خپل زړګی دی ډ یــرپــه مينه
یــو داسي ګران نازنين يار د زړه پــه کورکي لرم

د ډيــورنډ کــرښه مي منلې ، نــه يې اوس منمــه
ګـــران کـابل جان او کندهــاردزړه په کورکي لرم

څيري ګــرېــوان مي لا تــراوسه په ګنډلی نه دی
ستا دريښمينو زلـفو تـار د زړه پـــه کـــورکي لرم

په کړو ستر ګو مي په خوا ، په خدای که وګوري څوک
زه پټ سنګــراو **سنګـــريار** زړه د پـه کـــورکي لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوته قسمت ناکامه ژوند کړم د دې حال مخامخ
چې و مې نه لید د یار مخ سرېنی کلل مخامخ

له ډېره وخته څارکوم ګورم دي لاري ته تل
کله به زه شم ستا د زنې د شین خال مخامخ

اوس به رقیب شرمنده سترګي له دې ښاره وځي
کولای نه شي چې دي شي ستا د جمال مخامخ

ژونده دا څه را باندي کېږي په ځان نه پوهېږم
چې ولي زه یم هره ورځ د یو جنجال مخامخ

ده سترګو رپ کې یې زما زړه له کوګله یوړو
زه **سنګریار** شوم امتحان ته، د زوال مخامخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



✻

دا چي مړې اوښکي مي له ستر ګو بې اختياره وزي
دا پــه تش لاس ســوالګــره بېغلــه لــه بازاره وزي

اوس ورتـه ګــوره پـه ژړا يې شو ضمير پر پښتون
لــه جنازو يې آه لــه خـولې نــــه دا غيـاره وزي

ستا پـه يـوه ديـدم ـي غمونه له زړه دا سي تښتي
لکــــه د شپې تيـاره چـي څنګـه لــه سهاره وزي

پـوسـد بـه نـه شم لېو نتوب كه رانه لاس وانـخلي
كـه دا ستا غم زمـا دخـوار زړګي لـــه ښاره وزي

**سنګـريار**نه شـويـوكيـدا ى تـرهغـه نشـته امكان
زړه مـي دانه مـني چـي ورور د ورورلـه واره وزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

هېردې لوظونه کړو درمانه څه شوې
څنګه دې هېر کړمه جانانه څه شوې

چې له اشنا سره به ناست وم پرڅنګ
ډېر مې یاد پېږي تېر دورانه څه شوې

لــه تندې مرمه ستا رحمت غواړمه
ولې اوربـــږې نه ، اسمانه څه شوې

چې د بېلــتون یې وو قسم خــوړلی
اې دجانان قــول زبانه څــه شــوې

د زړه دنــیا مې وه پــه تـــا ودانه
د **سنګـــریار** دزړګـي خانه څه شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

چـــا وېل چي مينه يـو لوی بـار نـه دی ملګرو
په زړه کي څوک ساتل څه اسان کار نه دی ملګرو

زړګی يې پــــه ځـــواني کي يو چاوړی لــه کوګله
تـــــراوســه لاهغــه ســـــړی قـــــرار نــه دی ملګرو

تـــرهــرڅــه بــه تېرېږي کــه څــه مال وي که عزت
کــه دا سي وي بيا هم قيمت ديـدار نـــه دی ملګرو

چي لاس يې په دې ستړي وخت کي نه را غزولی
ودې تــه بـــه يا رنـــه وايـو دا يـا رنـــه دی ملګرو

خـــبره دا نصـاف کـه يې پـر سپين ميدان ونه کړه
رښتيـا چـي **سنګـريار** بيـا **سنګريار**نــه دی ملګــرو

✵

د زړونو تر منځ کرښه ............................ نصيب خان سنګريار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کافـرعادت مي د يارګـوره بدلېده نه کوي
لباسي مينه خو کـوي مينه د زړه نــه کوي

زما او ستابــه فرق د عمرياضميروي ضرور
چي مي قــدم ستا لـه قـدمه سمېـده نه کوي

موږ ورته ګـورو د ديد غلا ترې کوو پټه پـټه
مـلامت نه يـو چـي اشنـاراتـه کاتـه نه کوي

دا تجـربــه لـرم مـا ستر ګـو کـي خبري وکړې
خبـرې چـا ويـل چې سترګې او بانه نه کوي

اوس کــه يې خــلاص کړې لـه قفسه **سنگرياره** ياره
دا وزرمــاتي مــرغان زياتـه الــوا تـه نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁

ستړي ژوند دی ستړی یون دی دنګه یاره
بې له تا مي تریخ ژوندون دی دنګه یاره

لاتـــراوسه پـــوري نـــه یم اوزګارشوی
دخـــانـــانـــومېلمســـتون دی دنګه یاره

مازیګـــــر د وصال داسي لکـــــــه ژمی
یـــوګـــړی دکال بېلتـون دی دنګـه یاره

چي لښکـــرې دخـــوشال اوابدالي وای
دغـــــه ګای دي دجـنـــون دی دنګـه یاره

**سنګریار** غـوارم چي واړه پښتون یو شي
خوښ همېش په پېوستون دی دنګه یاره

**د زړونو تر منځ کرښه** ............................ **نصیب خان سنګریار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



✵

راته کـــــــوي چي ریبار کله ستا په باب خبره
لکـــه کـــوي چي ربـابي پـــه خپل رباب خبره

دا نـــوی نسل به لـــه توري هم توپکه ژغورم
ورته کـوم به پـــه هـــرځای کي دکتاب خبره

دا تـورا وسپین پنجابیان دواړه شي غصه په دغـه
چـي ورتـــه وکـــړمـه دخپل قـام دحساب خبره

نه به وحشت نـه بـه دهشت نـه به وي دا سي حالات
چـــې ورسېـږي تـر هـر چـا د انقــلاب خبــره

چـــي مـــا دزړه پـــه وینـولـویه کـړله هغه ونـه
تـرسایـه لانـدي يې اوس نـورکـړي دثواب خبره

ما **سنگریار** په لاس کـي زړه ورتـه نیولی وو تل
چـــي کلـــه دې راتـــه کـولـه دکباب خبــره

**د زړونو تر منځ کرښه** ............................ **نصیب خان سنگر یار**

(c) ketabton.com: The Digital Library


هېـــروم لـــوری دي دلـــــبره درنه ځم پربله
کلـــی درپـــاتـــه دزړه ســـره درنه ځم پربله

غـرڅنۍ پېغلي دګودرپه لوري نه راځي اوس
ځکـه پـرېـږدمه دي ګودره درنه ځم پربله

دلته وحشت دی هدیرې له مړو ، ډکي شولې
بې وخـــته تـــه راغلې اختره درنه ځم پر بله

خدای خبربیـادي ننداره دبام پرسر وکړمه
هسـي چي نـه شې لـه نظـره درنـه ځم پربله

ستـــا ددیدن په انتظاروم ترمابنامه پوري
ماځیګـرتېـرشـو ، بې باوره درنه ځم پربله

**سنګریار** خواست درته کومه کتابونه واخلئ
بېرته راستون شئ لـه سنګره درنه ځم پربله

**د زړونو ترمنځ کرښه** ........................... **نصیب خان سنګریار**

(c) ketabton.com: The Digital Library


❋

سکـــون یې رانه وړی دی خیالونه رانــه وړي
داستالـــــپونۍ میني دي خوبونه رانه وړي

داهغه زوړدښمن دی پښتنو که لری سترګې
تـوپک یـې دی راوړی کتـابـونـه رانـــه وړي

سـر زوری زړه مي هم د خپلي خوښې په رضا ځي
ملګـري يې لـه ځـــان سره یـادونه را نـه وړي


زه ستـا پـه خاطـر یـاره د ګل ډېـر قـدر کومه
چـې ګل رانــه دا ستـا رنګـه رنګونه رانه وړي

پـه ښـه خولـه و خزان تـه هـر کلی ویلی نه شم
د ګـران وطـن لـه غـېـږي نـه ګلـونه رانه وړي

ملګـرو **سنګریار** وايـي راځـئ چې سره یو شو
غلیـم رانـه د ګـران هیـواد لعلـونه رانه وړي

(c) ketabton.com: The Digital Library





د زړونو تر منځ کرښه ............................ نصیب خان سنګریار

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**